سره زر په سرو زرو، سپين زر په سپينو زرو، غنم په غنمو، وربشې په وربشو، خرما په خرما، او مالګه په مالګه، يو بل ته ورته (او) برابر، لاس په لاس (سود دی) خو کله چې دا ډولونه سره مختلف وي، نو څرنګه مو چې خوښه وي، خرڅلاو وکړئ، خو دا چې لاس په لاس (نغده معامله) وي

له عبادة بن صامت -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «سره زر په سرو زرو، سپين زر په سپينو زرو، غنم په غنمو، وربشې په وربشو، خرما په خرما، او مالګه په مالګه، يو بل ته ورته (او) برابر، لاس په لاس (سود دی) خو کله چې دا ډولونه سره مختلف وي، نو څرنګه مو چې خوښه وي، خرڅلاو وکړئ، خو دا چې لاس په لاس (نغده معامله) وي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله په شپږو مشهورو ربوي ډولونو کې د صحيحې او مشروعې معاملې طريقه څرګنده کړې ده، دا شپږ توکي عبارت دي له: سره زر، سپين زر، غنم، وربشې، خرما او مالګه، نو کله چې معامله د يو ډول په يو ډول وي لکه: سره زر په سرو زرو، يا خرما په خرما نو رسول الله ورته دوه شرطونه اښودلي دي: لومړی: که چېرې شي موزون وي(تلل کېږي) لکه سره زر او سپين زر، نو بايد په وزن کې سره برابر وي، او که مکيل وي (پيمانه کېږي) لکه غنم، وربشې، خرما او مالګه، نو بايد په پيمانه کې سره برابر وي. دويم دا چې: پلورونکی بايد بيه او پيرودونکی مال ترلاسه کړي او دا کار بايد د پلور (معاملې) په مجلس کې وشي. نو که دا ډولونه يو له بله مختلف شول، لکه د سرو زرو پلور په سپينو زرو، يا د خرما پلور په غنمو، نو بيعه جواز لري، خو پدې شرط چې پلورونکی بايد بيه او پيرودونکی مال (جنس) د معاملې په مجلس کې ترلاسه کړي؛ که نه، نو دا بيع باطله ده او پلورونکی او پيرودونکی دواړه په حرام سود (ربا) کې اخته شوي دي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66385